سلطان جان کلیوال
۲۰۱۸/۱۲/۱۱

# زه او تـــه

که چیری دوه یَوْ حسـابیږی هغه زه او ته یو
که یـو د بل نـه ډیر زاریږی هغه زه او ته یو
که چیری دوه تنه یو بل د پاره ژونـد غواړی
زړونـو کی یو د بل اوسیږی هغه زه او ته یو
که دوه مَـین شی د خطر کومی صحنې سره مخ
لار کی یـو بـل نه مخکی کیږی هغه زه او ته یو
که د ژوندون خوږو ترخو ته د همیش د پاره
د یـو وجود په خیر یو کیږی هغه زه او ته یو
که دوه سینو کی کله دوه زړونه د نورو په غم
سـره پـه یـو ډول زوریږی  هغه زه او ته یو
چی د ځولی ځولی جنګونو او شخړو وروسته
لـنده شـیبه کی پخـلا کیږی هغه زه او ته یو
چی بی له مینې ورته ژوند کومه معنی نه لری
ډیر چی له کرکې نه ویریږی هغه زه او ته یو

چی د نړۍ هره ګوښه کی د انصاف د پاره

سم پـه اورونـو کی سوځيږی هغه زه او ته يو

چی کله هم خپل کليوال په ژړا نه شی ليدای

هـری ژړا ته چی ژړيـږی هغه زه او ته يو

زما اوستا ترمنځ توپيرتش په رنګونو کی دی

نورچی په هيڅ شی نه بيليږی هغه زه او ته يو

تورنتو ــ کاناډا ــ ٦ دسمبر٢٠١٨

تذکر:
هرگاه خوانندگان محترم متمایل باشند که نبشته ها و سروده های دیگری از این شاعر معزز را مطالعه کنند، می توانند با اجرای "کلیک" بر عکس نویسنده در صفحهٔ مقالات، به فهرست "آرشیف" شان رهنمائی شوند!